مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی
د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۲۸۱** (از ۱ الی ۸ جدی ۱۳۹۷ هـ ش)

**این نشریه مجموعۀ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی، امنیتی، اقتصادی و اجتماعی هفته‌واری است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار و پالیسی‌ساز از آن استفاده نمایند.**

## آنچه در این شماره می‌خوانید:

مقدمه ........ ۲

ټرمپ ولې له افغانستانه د خپلو سرتېرو پر ایستلو غور کوي؟

په افغانستان کې د امریکا جګړه ........ ۴

ډونالډ ټرمپ او افغان جګړه ........ ۵

پایله ........ ٦

آلودگی هوا؛ چالش بزرگ در برابر زندگی افغان‌ها

آلودگی هوا؛ معضل جهانی ........ ۹

کابل یکی از آلوده‌ترین شهرهای جهان ........ ۱۰

راه‌کارهای مبارزه با آلودگی هوا ........ ۱۱

## مقدمه

په افغانستان کې له تېرو ۱۷ کلونو راهیسې د حکومت او نړیوالو پر وړاندې د طالبانو د جګړې یو ستر دلیل په دغه هېواد کې د بهرنیانو حضور بلل کېږي. په وروستیو کې د امریکا ـ طالبان مخامخ خبرو په لړ کې هم د طالبانو تر ټولو مهمه غوښتنه په افغانستان کې د بهرنیو ځواکونو د حضور پای ته رسول ګڼل کېږي.

له تېرو څو ورځو راهیسې غربي رسنیو داسې راپورونه خپاره کړل، چې ښیي د امریکا ولسمشر له افغانستانه د خپلو نیمو عسکرو په وتلو غور کوي. که څه هم د امریکا د پوځ لوی درستیز جوزف ډانفورډ د دغو راپورونو له خپرېدو وروسته په کابل کې سلګونه امریکایي عسکرو ته په خبرو کې وویل چې په افغانستان کې به د امریکا ماموریت له پلان سره سم دوام وکړي. دغه‌راز په افغانستان کې د غوڅ ملاتړ ماموریت عمومي قومندان جنرال سکاټ میلر هم ویلي چې نوموړي ته تراوسه د عسکرو د ایستلو په باب کوم حکم نه دی رسېدلی.

په افغانستان کې له ۱۷ کاله جګړې را وروسته له طالبانو سره د سولې د خبرو په موخه د امریکا کېناستل او د امریکایي جنرالانو له لوري دا منل چې د افغانستان جګړه له پوځي لارې نه شي ګټلی، هغه څه دي چې له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو د وتلو په اړه هم هیلې زیاتوي؛ خو دا چې ټرمپ ولې له افغانستانه د خپلو نیمو ځواکونو د ایستلو په اړه غور کولو ته اړ شوی او د دې ځواکونو وتل به د افغانستان په وضعیت کې څه بدلون راولي؟ هغه موضوعات دي چې د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز د اوونۍ تحلیل په لومړۍ برخه کې بحث پرې شوی دی.

د اوونۍ تحلیل دویمه برخه د کابل ښار د هوا د ککړتیا او د هغې د لاملونو په اړه بحث ته ځانګړې شوې ده. کابل د افغانستان هغه ستر ښار دی چې نږدې ٦میلیونه وګړي په کې ژوند کوي؛ خو د راپورونو له مخې دغه ښار د نړۍ د هغو ښارونو په ډله کې راځي، چې هوایي ډېره ککړه ده. د کابل ښار د هوا ککړتیا په روانو حالاتو کې له جګړې او چاودنو را وروسته د افغانانو د ژوند یو بل ستر دښمن ګڼل کېږدي چې د میلیونونو افغانانو ژوند یې له ګواښ سره مخ کړی دی.

# ټرمپ ولې له افغانستانه د خپلو سرتېرو پر ایستلو غور کوي؟



د امریکا او طالبانو ترمنځ د سولې مخامخ خبرې له نږدې دریو میاشتې راهیسې روانې دي. د دې خبرو په لړ کې د دواړو لورو استازو شو ورځې وړاندې په متحده عربي اماراتو کې ګډه ناسته درلوده او دغې ناستې درې ورځې دوام وکړ. که څه هم د دغې ناستې ډېر جزئیات خپاره نه شول؛ خو طالبانو د یوې اعلامیې په خپرولو سره وویل چې دوی له امریکایي لوري سره په افغانستان کې د نظامي حضور په پای ته رسولو خبرې کړې دي.

په ابوظبۍ کې د امریکا ـ طالبان له وروستۍ ناستې را وروسته، تېره اوونۍ د رویټرز خبري اژانس او نیویارک ټایمز ورځپاڼې داسې راپورونه خپاره کړل چې د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ له افغانستانه د ۷ زره امریکایي سرتېرو پر ایستلو غور کوي او داسې ښکاري چې یاد شمېر سرتېري د راتلونکي زېږدیز کال په لومړیو څو میاشتو کې له افغانستان و باسي.

د رسنیو دغو راپورونو د افغانستان دننه او بهر مختلف غبرګونونه راپارولي دي؛ خو پوښتنه داده چې د امریکا ولسمشر په څه دلیل له افغانستانه د خپلو نیمایي سرتېرو د ایستلو غور کولو ته اړ شوی؟ دغه‌راز په افغانستان کې د امریکا ۱۷ کلنې جګړې ته یوه لنډه کتنه او دا چې له افغانستانه به د ۷ زره امریکایي سرتېرو وتل د دې هېواد په قضیه کې څه بدلونونه راولي؟ دا د موضوع هغه اړخونه دي چې دلته مو بحث وربانديې کړی دی.

## په افغانستان کې د امریکا جګړه

د ۲۰۰۱م کال د سپټمبر په ۱۱مه د امریکا پر نیویارک او واشنګټن ښارونو د "یونایټډ" او "امریکن" هوایي شرکتونو د څلورو برمته شوو الوتکو په واسطه له بریدونو وروسته ـ چې په دغه بریدونو کې شاوخوا ۳۰۰۰ کسان ووژل شول ـ امریکا پر افغانستان برید وکړ او لسګونه زره سرتېري يې له ترهګرۍ سره د مبارزې تر نوم لاندې افغانستان ته ولېږل.

پر افغانستان د امریکا له بریده شاوخوا ۱۷ کاله تېرېږي؛ خو دا جګړه لا هم ښه ګرمه روانه ده او هره ورځ د لسګونه افغانانو ژوند اخلي. په تېرو ۱۷ کلونو  کې امریکا او نړیوالو ملګرو يې نه یوازې دا چې په افغانستان کې د جګړې اور مړ نه کړ، بلکې د دوی په موجودیت کې دا جګړه لا پراخه او خونړۍ شوه.

د (icasualties) اداري د معلوماتو پر بنسټ له تېرو ۱۷ کلونو راهیسې د افغانستان په جګړه کې (۳۵۵۹) بهرني پوځیان وژل شوي دي چې (۲۴۱۷) تنه يې امریکایي سرتیري دي. له وژل شوو ورهاخوا په دغه موده کې زرګونه تنه نور بهرني سرتیري د افغانستان په جګړه کې ګوډ او مات شوي هم دي. دغه‌راز په روانه جګړه کې لسګونه زره ملکي وګړي هم وژل شوي، د ملګرو ملتونو سازمان په وینا، یوازې په تېرو څلورو کلونو کې په افغانستان کې ۴۰ زره ملکي وګړو ته مرګ‌ژوبله اوښتې ده.

له بله اړخه پر افغانستان د امریکا له بریده وروسته د امریکا په رهبرۍ د نوي نظام بنسټ کېښودل شو؛ خو د ۱۷ کلونو په تېرېدو لا هم افغانستان د داسې یوه نظام صاحب نه دی شوی چې مرکزي حاکمیت يې پیاوړی وي او د هېواد پر ټوله خاوره پوره حاکمیت ولري او یا هم له پوره سیاسي ثبات څخه برخمن وي. له همدې امله لا هم افغانستان د نړۍ د فاسدو هېوادونو په نوملړ کې څلورم مقام لري.

له دې ټولو ورهاخوا افغانستان ته د نړیوالو څواکونو له راتګ سره، میلیاردونه ډالر ته راغلل؛ خو داسې ورک شول چې اوس هم ۴۰ سلنه افغانان د فقر تر کرښې لاندې ژوند کوي او نږدې دوه میلیونه افغانان چې د کار کولو په شرایطو برابر دي، بې‌کاره دي.

## ډونالډ ټرمپ او افغان جګړه

په افغانستان کې د امریکا روانه جګړه د دې هېواد په تاریخ کې تر ټولو اوږده بهرنۍ جګړه بلل کېږي. د امریکا د ننه د دغې جګړې له دوام سره ډېری خلک په ځانګړې توګه عام امریکایان مخالف دي او نه غواړي چې هېواد یې د نړۍ د نورو هېوادونو په جګړو کې ښکېل وي. له همدې امله په افغانستان کې د امریکا د جګړې پای ته رسول په دغه هېواد کې د سیاسي رهبرانو لپاره یو قوي ټاکنیز شعار ګڼل کېږي.

په امریکا کې د ۲۰۰۹م کال ولسمشریزو ټاکنو پر مهال بارک اوباما تر ډېره د افغانستان او عراق د جګړو پای ته رسولو د شعار په زور د ولسمشرۍ ټاکنې وګټلې. اوباما په ۲۰۰۹م کال کې خپله افغان تګلاره اعلان کړه، چې له مخې یې په افغانستان کې د امریکایي سرتېرو د زیاتولو ترڅنګ د دوی د بېرته وتلو مهالوېش هم اعلان شو.

له اوباما وروسته ډونالډ ټرمپ که څه هم له ولسمشر کېدو وړاندې په افغانستان کې د امریکا پر تګلاره ډېرې نیوکې کولې او په افغانستان کې د امریکا د روانې جګړې پر پای ته رسولو یې ټینګار کاوه؛ خو سپینې ماڼۍ ته له ننوتلو سره یې له اتو میاشتو ځنډ وروسته د افغانستان او سوېلي اسیا لپاره خپله نوې پوځي تګلاره اعلان کړه او د تېرو تګلارو په شان یې یو ځل بیا په افغانستان کې د جګړې پر دوام ټینګار وکړ. دا هغه څه و چې پر ډونالډ ټرمپ د امریکایي پوځي چارواکو له لوري ومنل شول او د څه مودې په تېرېدو یې پایله دا شوه چې خپله امریکایي جنرالانو په افغانستان کې د روانې جګړې بن‌بست ومانه او پر دې اقرار شول چې روانه جګړه له پوځي لارې نه شي ګټلی.

په امریکا کې د ولسمشریزو ټاکنو په رانږدې کېدو سره د عامو امریکایانو د ملاتړ ترلاسه کولو په برخه کې، په نورو  هېوادونو کې د امریکا د روانو جګړو او پوځي مداخلو پای ته رسول یو مهم فکټور ګڼل کېږي. له همدې امله ډونالډ ټرمپ هڅه کوي چې له دې لارې یو ځل بیا ټاکنې وګټي. نوموړي لومړی له سوریې څخه د خپلو ځواکونو د ایستلو اعلان وکړ او وروسته داسې راپورونه خپاره شول چې غواړي د افغانستان له جګړې څخه هم خپل ۷۰۰۰ سرتېري وباسي.

د امریکا د داخلي سیاست له قضیې ورهاخوا داسې تحلیلونه هم شته چې د امریکا له لوري له افغانستانه د خپلو سرتېرو قضیه د امریکا ـ طالبان ترمنځ د سولې د خبرو یوه برخه ګڼل کېږي. داسې ویل کېږي چې ښایي امریکا د باور رامنځته کولو په موخه دغه ګام پورته کړي او په مقابل کې به یې طالبان د لنډمهال لپاره اوربند اعلان کړي.

خو په ټوله کې ویلی شو چې امریکا له تېرو ۱۷ کلونو راهیسې په افغانستان کې لسګونه زره سرتېري ځای په ځای کړي وو؛ خو جګړه ختمه نه شوه او د افغانستان وضعیت ورځ تربلې خراب شو. په وروستیو کې امریکا خپله مني چې دوی د افغانستان په جګړه کې له بن‌بست سره مخ دي او باوري دي چې له پوځي لارې دغه جګړه نه شي ګټلی. په همدې خاطر هڅه کوي چې د خبرو اترو له لارې روانه جګړه پای ته ورسېږي.

## پایله

پر افغانستان د امریکا له بریده وروسته، افغانانو له تېرو ۱۷ کلونو راهیسې د جګړې او بربادۍ پرته بل څه و نه لیدل. هر دردېدلی افغان د سولې تږی دی او په هر قیمت حاضر دی چې روانه جګړه نوره پای ته ورسېږي. دوی د سولې په برخه کې هر کوچني ګام ته ډېر خوشاله کېږي او د ځان لپاره یې د خورا زیاتو هیلو لامل ګرځوي. نو له همدې امله د امریکا وتل په اوس مهال کې د هر افغان یوه ستره هیله ده.

له افغانستانه د امریکا یا نورو بهرنیو ځواکونو احتمالي وتل که له ځان سره ډېر مثبت ټکي لري خو ځینې منفي ټکي هم لري چې هغه خپله د افغانانو په سیاسي ځیرکتیا پورې اړه لري.

طالبان له تېرو ۱۷ کلونو راهیسې په افغانستان کې د بهرنیو ځواکونو د حضور پر ضد جګړه کوي. دغې ډلې د سولې او پخلاینې ټولې خبرې د بهرنیو ځواکونو تر حضوره را محدودې کړې دي. په داسې یوه حالت کې د بهرنیو ځواکونو وتل د سولې پر وړاندې یو ستر خنډ له منځه وړي او سولې ته د رسېدو هیلې را ژوندۍ کوي. په اوس مهال کې د ټولو وسله‌والو جنګېدونکو ډلو د جګړې کولو بهانه ختموي او د جګړې له ختمېدو یا لږ ترلږه له کمېدو سره وژنې او بربادۍ هم را کمېږي.

پر دې سربېره په افغانستان کې د بهرنیانو حضور د افغان دولت حاکمیت او قاطعیت هم تر خپل سیوري راوستلی دی. د افغان دولت په چارو کې د دوی لاسوهنو د افغان حکومتي چارواکو ترمنځ داخلي اختلافات رامنځته کړي دي. ډېری برخلیک ټاکونکو پروسو، د دوی د مداخلو له کبله خپل باور له لاسه ورکړی، د خلکو ترمنځ په مختلفو نومونو تبعیض او تعصب زیات شوی دی.

له بله اړخه په افغانستان کې د امریکا او متحدینو حضور یې د دې لامل شوی چې د سیمې هېوادونه وېره احساس کړي او د خپل ځان ساتلو په موخه افغانستان کې لاسوهنه وکړي، ترڅو امریکا او متحدینو ته یې یو سرخوږی را پیدا کړی شي؛ خو د دې هرڅه قرباني بیا افغانان ورکوي.

له افغانستان د امریکایي ځواکونو د وتلو پر دې ټولو مثبتو اړخونو سربېره، هغه څه چې د اندېښنې وړ دي، هغه د دوارو لورو ترمنځ د هغو کسانو موجودیت دی چې خپلې ګټې یوازې د جګړې په دوام کې ګوري او هیڅکله هم نه غواړي چې دا جګړه ختمه شي. دا رنګه کسان ښایي سولې ته د رسېدو په لاره کې خنډونه رامنځته کړي؛ خو ټولو افغانانو په ځانګړې توګه د طالب او حکومت په چوکاټ کې هغه چارواکي چې غواړي جګړه پای ته ورسېږي، اړتیا ده چې له ډېرې ځېرکتیا کار واخلي، د هېواد د ملي ګټو په خاطر داسې سیاست غوره کړي چې د امریکا له وتلو وروسته یو پیاوړی او ټول‌منلی مرکزي حکومت رامنځته شي، نه دا چې له افغانستان د روسانو له وتلو وروسته تجربه یو ځل بیا تکرار شي. پای

# آلودگی هوا؛ چالش بزرگ در برابر زندگی افغان‌ها



نهاد هواشناسی آمریکایی به نام (Air visual) همه‌روزه در بارۀ آلودگی هوا در شهرهای مهم جهان گزارش تهیه می‌کند. در گزارش چند روز قبل (۱۵ دیسمبر ۲۰۱۸م) این نهاد، کابل به عنوان آلوده‌ترین شهر جهان خوانده شده است. بر اساس جدول این گزارش، شهر کابل با داشتن ۳۵۳ درجه آلودگی هوا در ردۀ نخست ده شهر آلودۀ جهان جا گرفته است. شهر لاهور پاکستان، آلن‌باتور مغولستان و دانکا بنگله‌دیش به ترتیب در رده‌های دوم، سوم و چهارم این جدول قرار دارد.

در کشوری همچون افغانستان که هر روز ده‌ها تن به دلیل جنگ و ناامنی در آن جان‌های خود را از دست می‌دهند، آلودگی هوا یک دشمن خطرناک دیگری در برابر زندگی مردم این کشور می‌باشد که روزانه ده ها انسان را، راهی شفاخانها می‌کند.

افزایش آلودگی هوا در شهر کابل باعث این شد که هفتهٔ گذشته وزارت کار و امور اجتماعی و ادارهٔ ملی حفاظت از محیط زیست افغانستان با نشر اعلامیه‌ای به هدف جلوگیری از آلودگی هوا و کاهش ازدحام ترافیک شهر کابل، ساعات کاری اداره‌های دولتی را تغییر دهد. بر اساس علامیه‌ی این دونهاد دولتی، سر از تاریخ پنج جدی سال جاری خورشیدی ساعات کاری ۱۴ وزارتخانه و هشت ادارهٔ مستقل از ساعت هشت و نیم صبح تا چهار ونیم عصر و اوقات کاری سایر وزارتخانه‌ها و اداره‌های دولتی از ساعت هفت و نیم صبح تا سه ونیم بعد از ظهر تنظیم شده است.

معضل افزایش آلودگی هوا در جهان، افزایش آلودگی هوای کابل و عوامل آن و همچنان راه‌کارهای ضروری در رابطه به جلوگیری از آلودگی هوا، از مواردی اند که در این تحلیل روی آن بحث شده است.

## آلودگی هوا؛ معضل جهانی

بر اساس گزارش سازمان جهانی صحت (WHO) که در اوایل ماه فبروری سال ۲۰۱۸م نشر گردید، از هر ده نفر جمعیت جهان نه نفر آن هوای آلوده را تنفس می‌کنند و کشورهای عقب ماندهٔ افریقا و آسیا بیشترین آسیب پذیر این چالش می‌باشد.

بر بنیاد تخمین‌های این سازمان، حدود ۷ میلیون تن سالانه از قرار گرفتن در معرض هوای آلوده و داخل شدن ذرات کوچک در شش‌ها و سیستم تنفسی به بیماری‌های گوناگون مانند سکتهٔ مغزی، بیماری قلبی، سرطان شش، بیماری‌های مزمن و عفونت‌های تنفسی مبتلا می‌شوند و زندگی خود را از دست می‌دهند.

در این گزاش همچنان گفته شده که در سال ۲۰۱٦م آلودگی هوا به تنهایی باعث مرگ و میر حدود ۴،۲ میلیون تن شده بود و در مدت مشابه آلودگی هوا به دلیل پخت و پز با استفاده از تکنالوژی و انواع گوناگون مواد سوخت در خانه‌ها، نیز عامل مرگ و میر حدود ۳،۸میلیون تن تخمین گردیده بود.

بر این اساس آلودگی هوا یکی از چالش‌های بزرگی به سطح جهان در برابر زندگی موجودات زنده است که سالانه میلیون‌ها موجود زنده را به کام مرگ می‌کشاند و اگر در رابطه به بهبود کیفیت هوا، سیستم حمل و نقل، افزایش کیفیت سوخت و استفاده از وسایل نقلیه برقی به سطح تمام جهان توجه صورت نگیرد، این دشمن، زندگی میلیون‌ها انسان دیگر را نیز خواهد گرفت.

## کابل یکی از آلوده‌ترین شهرهای جهان

افغانستان کشوری دارای کوه‌های سر به فلک و دریاهای پر آب، دارای طبیعت زیبا و متنوع است؛ اما جنگ و ناامنی مردم این کشور را از زیست در بسیاری مناطق این طبیعت زیبا و پاک محروم ساخته است و همه به خاطر سلامت جان شان بر شهرهای دیگر، به خصوص کابل پایتخت افغانستان هجوم آورده اند.

بر بنیاد مطالعات، کابل شهری است که تنها مناسب زیست نیم میلیون فرد می‌باشد؛ اما در حال حاضر نزدیک به شش میلیون فرد در این شهر زندگی می‌کنند. تراکم نفوس باعث شده که هوای این شهر به قاتل بزرگ باشندگان آن تبدیل شود، چون به دلیل آلودگی هوا روزانه صدها تن از شهروندان این شهر راهی شفاخانه می‌شوند و آلودگی به نحوی از ایشان قربانی میگیرد.

بیشترین آسیب دیدگان آلودگی هوا طبقۀ فقیر و بیچارۀ جامعه اند که حتی در داخل اطاق‌ها و خانه‌های شان از آلودگی هوا در امان نیستند و با استفاده از مواد گرم‌کن بی‌کیفیت و عدم موجودیت لوازم زمستانی مناسب، همیشه با امراض گوناگون تنفسی برگرفته از آلودگی‌ها دست و پنجه نرم می کنند؛ اما این که عوامل عمدۀ این همه آلودگی در شهر کابل چیست، در این مورد چند نکتۀ ذیل قابل ذکر می باشد:

**تراکم نفوس:** شهر کابل پر نفوس‌ترین شهر در افغانستان است که حدود شش میلیون نفر در آن زندگی می‌کنند. همین تراکم نفوس یکی از عوامل عمدۀ افزایش آلودگی هوا در شهر کابل شده است. چون با تراکم نفوس شمار موترها و استفاده از انواع مواد سوخت افزایش می‌یابد که نقش زیادی در آلودگی هوا دارد.

**استفاده از مواد سوخت بی‌کیفیت:** سوختاندن زغال سنگ، مواد نفتی استعمال شده، چوب و انواع دیگر مواد سوخت در کارخانه‌های تولیدی یا داش‌های خشت‌پزی و نیز استفاده از این مواد برای گرم کردن خانه‌ها به خصوص در فصل زمستان، یکی از موارد مهم افزایش آلودگی هوا در شهر کابل است. فقر و تنگدستی باعث شده که شهروندان در صورت نبود هزینۀ مواد سوخت معیاری از مواد ارزان و غیرمعیاری که باعث آلودگی هوا می‌شود، استفاده کنند.

**معیاری نبودن جاده‌ها:** عدم معیاری بودن سرک‌ها و کوچه‌های شهر کابل یک بخش عمدۀ دیگر آلوده‌گی هوا در این شهر است. پس از سال ۲۰۰۱م با آنکه میلیاردها دالر پول کمک شدۀ کشورهای خارجی به افغانستان آمد؛ اما بدلیل موجودیت فساد و ضعف اداره‌های دولتی این پول دست‌خوش طمع های افراد فاسد شد و با گذشت ۱۷ سال هنوز هم کوچه‌ها و برخی سرک‌های شهر کابل خامه اند که باعث آلودگی هوای شهر کابل می‌شود.

**خشک‌سالی:** کمبود بارش در سال‌های اخیر در افغانستان به خصوص در شهر کابل یکی دیگر از عوامل افزایش آلودگی هوا شده است. نبود بارندگی باعث از بین رفتن ساحات سبز و افزایش گرد و خاک شده است.

**ضعف مدیریتی اداره‌های مسؤول دولتی:** عدم موجودیت یک میکانیزم منظم برای معیاری ساختن سیستم شهری کابل و نبود راه‌کارهای مؤثر و عملی برای مبارزه با آلودگی، باعث شده که مسؤولین محیط زیست به زباله‌ها و مناطق مکروب آفرین شهر رسیدگی نتوانند و شهر بیشتر از پیش آلوده شود.

## راه‌کارهای مبارزه با آلودگی هوا

وجود راهکارهای مناسب، جهت جلوگیری از یک معضله و یا خنثی سازی یک پدیدۀ مضر از یک محیط؛ ملزوم متخصصین علمی، ظرفیت اقتصادی، تصمیم‌گیری‌های مقامات رهبری و تدابیر این مسئله در مقاطع زمانی متعدد می‌باشد. اینک به گونه اختصار به نکاتی چند جهت جلوگیری از آلودگی هوا می‌پردازیم:

**نخست:** آگاهی عمومی از خطرات ناشی از آلودگی هوا و تشویق عموم برای سهیم شدن در دفع مشکل آلودگی، یکی از راه‌کاهایی به شمار می آید که در مبارزه با آلودگی هوا مؤثر تمام خواهد شد.

**دوم:** روی دست‌گرفتن میکانیزم‌هایی که باعث معیاری شدن سیستم شهری شود و از سوی اداره‌های مسؤول در این عرصه اقداماتی صورت گیرد که در درازمدت برای مبارزه با آلودگی مؤثر باشند.

در حال حاضر حکومت افغانستان به هدف جلوگیری از آلودگی هوا در شهر کابل، تمام ادارۀهای دولتی را در هفته ای دو روز (پنجشنه و جمعه) رخصتی عمومی اعلان کرده است و تازه وقت کاری اداره‌های دولتی را نیز به همین هدف تغییر داده است. با آنکه این هم گام خوبی است؛ اما لازم است که دولت افغانستان روی فکتورهایی کار کند که باعث جلوگیری از افزایش آلودگی می‌شود و راه‌کارهای را روی دست گیرد که در درازمدت مؤثر باشد. بگونۀ مثال دور ساختن فابریکه های تولیدی از محیط‌های زیست، کنترول روی مواد سوخت این فابریکه‌ها، جمع کردن موترهای که ده ها سال از تاریخ استفاده آن گذشته است ، اما هنوز هم در شهر می‌گردند و روی دست گرفتن یک میکانیزم منظم برای جمع کردن زباله‌ها و دیگر کثافات شهر.

**سوم:** رساندن برق به تمام شهروندان، تا آنها برای گرم کردن و روشنایی یا هم پخت و پز در خانه‌ها و دیگر اماکن از مواد سوخت بی‌کیفیتی که باعث آلودگی هوا می‌گردد، استفاده نکنند.

بصورت کل باید گفت، مشکل آلودگی هوا بدون شک یک معضلهٔ جهانی بوده و نیز چگونگی و مقدار آلودگی در یک محیط بیانگر رشد سطح فرهنگی جامعه و ظرفیت سیستم خدمات شهری در آن جامعه می‌باشد و قضاوت‌ها را نسبت آلودگی به اداره‌های مسؤول و باشندگان آن جامعه در پی‌خواهد داشت.

مشکل آلودگی هوا در یک محیط، مخصوص یک فرد و یا یک نهاد نبوده، چون مفاد و ضرر همه را به نحوی فرا میگیرد. پس می‌شود جهت رفع مشکل آلودگی هوا همگان در هر سطحی به طوری که شایسته است کوشا بوده و بدون اینکه پرتاب‌گر بار ملامتی بر دوش دیگران باشیم، بهتر است که کاندیداتور حل این مسئله بوده، حافظ سلامتی خود، خانواده و جامعهٔ خود باشیم.

پایان

**ارتباط با ما:**

**ایمیل:** info@csrskabul.com - csrskabul@gmail.com

**وب سایت:** www.csrskabul.com -- www.csrskabul.net

**شمارهٔ تماس دفتر:** (+93) 202564049 - (+93) 784089590

**محقق و مسؤول تحلیل هفته:** ضیاءالاسلام شیرانی (+93) 764747548 zi.shirani@gmail.com

**محقق و مسؤول نشر تحلیل هفته:** احمدشاه راشد (+93) 784249421 ahmadshahr786@gmail.com